ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-01

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

نگينه بي بي
ليکچرر, پښتو څانگه، عبدالولي خان پوهنتون مردان، خيبر پښتونخوا

# تصوف اؤ پښتنه ټولنه

**Nagina Bibi***
Lecturer, Pashto Department, Abdul Wali Khan University Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.

***Corresponding Author:** nagina@awkum.edu.pk

## Tasawuf and Pashtun Society

Human life comprises of the material and spiritual sides, which are both separate as well as connected to each other. The evolutionary history of human life proves that spiritual vigor is necessary for leading a good practical life. Every religion has a strategy for the spiritual training and education of its followers. Tasawuf (or sufisim) is a system for increasing spiritual training and increase its strength in Islam. It has been defined in different contexts, however, according to Hazrat Data Ganj Bakhsh Hajweri "it is such a narrative and interpretation of Safa where there is no doubt or complaint. The apparent meaning of Safa is light, and Sufism is the interpretation of this meaning". This article discusses the concept of tasawuf in the pashtun society. Briefly, it describe that the literary work on tasawuf in the Islamic world reached zenith in the 3rd to 7th century, however, its intensity declined later. In India, Hazrat Data Ganj Bakhsh name is worth noticing and his book "Kashf al-Mahjub" is a beacon for the followers of tasawuf. Many other notable personalities following this path flourished in the Delhi Sultanate. Pir Rokhan is the pioneer who started preaching tasawuf in the pashtun society. Pir Baba and Akhund Derweza, though opponents of Pir Rokhan, are other notable names in the preaching of tasawuf in Pashtun society. The preachers of tasawuf are respected in the pashtun society because these people possessed good manners and high morals, teaching the same to the people as well.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-01

ماخذ تحقیقی مجلہ

**Key Words:** *Tasawuf, Sufism, Pashtun Society, Data Ganj Bakhsh, Pir Rokhan, Kasf al-Mahjub.*

د انسان ژوند پهٔ دوه اړخونو مشتمل دے يو د دهٔ د ژوند مادي اړخ دے اؤ بل روحاني. دا دواړه ځان له جدا جدا هم دي اؤ يو بل سره تړلي هم دي.د انساني ژوند د ارتقائي تاريخ نه ثابته ده چې کله د دهٔ روحاني صحت ښهٔ پاتې شوے نو ورسره ئې عملي ژوند صحت مند وي. د هم دغه روحاني صحت دپاره انسانانو پهٔ جدا جدا شکلونو کښې هڅې کړې دي. هر مذهب کښې د انسان د روحاني صحت اؤ تربيت دپاره يوه تګلاره موجوده وي. لکه هندو مت، بدهـ مت،جين مت، تاؤ مت،عيسائيت اؤ اسلام وغېره ټولو مذاهبو کښې د انسان د داخلي نړۍ د صحت اؤ تربيت دپاره خپل خپل يو لائحه عمل شتون لري.هم دغه داخلي صحت يا تربيت دپاره چې کوم نظام موجود وي هغې ته تصوف. هسې خو د تصوف ډېرو خلقو تعريفونه کړي اؤ بحثونه ئې کړي خو د هغې نه وړاندې به د تصوف د کلمې پهٔ حقله ووايم چې ځېنې خلق وائي چې د تصوف د لارې لاروي ته صوفي ځکه وائي چې دا خلق د صوف(وړۍ) کپړې اچوي اؤ بعضې وائي چې دا د اول صف خلق وي اؤ ځينې بيا دا وضاحت کوي چې دا خلق د اصحاب صفه سره مينه اؤ عقيدت لرونکي وي ولې يوه ډله وائي چې دا د لفظ "صفا" نه مشتق دے يعنې د صفائي خيال به ساتي دلته مراد دا وي چې زړهٔ د ماسوا الله نه پاک و صاف کړي. پهٔ هر حال دا اصطلاح چې د هر لفظ نه جوړه وي اؤ وجه ئې هر څهٔ وي خو دلته د تصوف د تعريف هڅه کوو. داتا ګنج بخش هجويري پهٔ دې حقله ليکي چې:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-01



"تصوف صفا کی ایسی حکایت و تعبیر ہے جس میں شکوہ و شکایت نہ ہو. صفا کے ظاہری معنی تاباں ہیں اور تصوف اس معنی و مفہوم کی تعبیر و حکایت ہے."[1]

ترجمه: تصوف د صفا داسې حکایت اؤ تعبیر دے چې شکوه اؤ شکایت پۀ کښې نۀ وي. د صفا ظاهري معنا تابان ده اؤ تصوف د دې معنې تعبیر اؤ حکایت دے.

د تصوف ځینې نور تعریفونه دا دي:

"١ :تصوف دا دے چې تۀ د مخلوق نه مخ واوړې اؤ الله سره رشته جوړه کړې. (جنېد بغدادي)

٢ :تصوف دا دے چې تۀ خپل نفس د خدائے پۀ حواله کړې چې هغه څۀ غواړي هغسې ورسره کوې. (حضرت رویم)

٣ :تصوف نوم دے هر قسمه ښو اخلاقو کښې د داخلېدو اؤ د هر قسمه بدو اخلاقو نه د راوتلو. (ابو محمدؐ جریري)

۴ :تصوف پۀ شریعت اخلاص سره د عمل کولو نوم دے. (مجدد الف ثاني) "[2]

دا شخصیات اؤ د دوي تعریفونه د اسلام سره تعلق لري. څنګه چې وړاندې ذکر وشو چې تصوف نورو مذاهبو کښې هم شته اؤ د اسلام د راتلو نه وړاندې هم موجود وۀ لکه نبي کریم ص باندې لا وحي نۀ وه نازله شوې اؤ هغه به غار ثور ته تللو هلته به ئې تزکیه نفس کولو ځکه نو دلته به مونږ د اسلامي نقطه نظر سره سم بحث کوو. حمزه بابا پۀ دې حقله لیکي چې:

"تصوف د دنیا پۀ ټولو مذهبونو کښې موجود دے اؤ هر مذهب اؤ معاشرې پۀ خپل رنګ کښې پۀ دې عمل کړے اؤ دنیا ته ئې معرفي کړے دے.خو اسلام چې د تصوف کوم حقیقت بیان کړے دے هغه د عالم بشریت د اندروني فطري تقاضو صحیح تفسیر دے ځکه چې اسلام دین فطرت دے."[3]

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-01



تصوف کښې پهٔ لویه سطح دوه نظریې دي چې یوُ ته وحدت الوجود وائي اوُ بلې ته وحدت الشهود. د وحدت الوجود مطابق کائنات کښې چې څهٔ هم دي دا د یوُ حقیقي ذات ظواهر دي یعنې دا د خدائے نه جدا څهٔ حېثیت نهٔ لري بلکې ټول کائنات کښې هغه یوُ حقیقي ذات موجود دے هغه ازلي اوُ ابدي دے. کثرت څهٔ حقیقت نهٔ لري بس یوُ وحدت شتون لري اوُ هغه یوُ واحد اوُ احد ذات دے. د وحدت الوجود تعریف دوست مُحمَّد خان کامل مومند داسې کړے:

"وجود یعنی حقیقی ہستی ایک ہے لیکن اس کے ساتھ ایک ظاہری وجود ہے اور ایک باطنی، باطنی وجود ایک نور ہے جو سارے عالم کے لئے بمنزلہ جان کے ہے اور اسی باطنی نور کا پرتو ظاہری وجود ہے جو ممکنات کی شکل میں دکھائی دیتا ہے."[4]

ترجمه: وجود یعنې حقیقي ذات یوُ دے ولې هغې سره یوُ ظاهري وجود دے اوُ یوُ باطني، باطني وجود یوُ نور دے چې ټول عالم دپاره د ساه پهٔ څېر دے اوُ د دې باطني نور سیورے ظاهري وجود دے چې د ممکناتو پهٔ شکل کښې ښکاري.

د وحدت الوجود پهٔ حقله هسې خو د ابن العربي نوم شهرت لري خو رښتیا خبره دا ده چې د وحدت الوجود اصل ماخذ هند دے اوُ د دے تصور باني شنکر اچاریه دے. دې مد کښې ډاکټر سمیع الدین ارمان وضاحت کوي:

"د وحدت الوجود د تصور باره کښې دا تقریباً یقیني ده چې دا د مشرق/هند ورکړه ده. د هندومت د اتمې پېړۍ لوے صوفي عالم شنکر اچاریه دا تصور تهیورائز کړے وهٔ."[5]

اګر چې دا تصور د شنکر اچاریه وهٔ خو دې مد کښې ابن عربي بلها کار کړے اوُ هغه د دې نظریې یوُ اهم نوم یادېږي.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-01
ماخذ تحقیقی مجلہ

دا رنګ دويمه لويه نظريه د وحدت الشهود ده کومه چې امام رباني مجدد الف ثاني شېخ احمد سرهندي وړاندې کړې وه.دې مد کښې د مجدد الف ثاني مکتوبات زيات شهرت لري اؤ د دې نظريې پۀ وضاحت مبني دي. د وحدت الشهود تعريف دوست محمؐد کامل داسې کوي:

"کائنات کا وجود اور الگ الگ آثار وصفات کا ظہور واحد مطلق کی ذات وصفات کا ظل اور عکس ہے جو عدم پر پڑتا ہے اور یہ سایہ یا ظل عین مالک ظل یا مالک صاحب ظل نہیں ہے بلکہ محض ایک مثال ہے."[6]

ترجمه: د کائنات وجود اؤ د جدا جدا اثارو اؤ صفاتو ظهور د واحد مطلق د ذات سيورے دے کوم چې پۀ عدم پرېوځي اؤ دغه سايه عېن د سايې مالک دے نۀ دے بلکې دا محض يؤ مثال دے.

د دې مطلب دا شو چې دا کائنات اؤ خدائے جدا جدا حېثيت لري يعنې د اصل څيز اؤ د هغې د سيوري پۀ شان خو کۀ غور وشي نو سيورے د اصل وجود نه بغېر نۀ شي قائمېدې.

عالم اسلام کښې د درېمې صدۍ هجرۍ نه تر اوومې صدۍ هجرۍ پۀ تصوف د تصنيف و تاليف اؤ هم دغه رنګ عملي طور هم يؤ بهترين کار شوے خو ولې بيا دا شدت لړ.کمېږي لکه نهمه صدۍ هجرۍ کښې فريدالدين عطار د يؤ مغل سپاهي د جبر ښکار کېږي اؤ شهيد کېږي. تاتاريان پۀ رے ښار کښې پۀ لکونو خلق قتل کوي اؤ شېخ نجم الدين دايه د يؤ جماعت سره هجرت کوي اؤ دغه ډله د صوفيانو وه. دا هغه حالات وو چې د عراق، شام اؤ مصر وغېره پۀ لکونو مسلمانان بې کوره شول اؤ دغو کښې زيات تره صوفيان اؤ د طريقت مشائخ وو. دغه سلسله کښې هندوستان ته هم اسلامي تصوف پۀ يؤ منظم شکل کښې راغلو اګر چې دغې نه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-01



وړاندي ئې دلته نخښې وې خو دغې سره دلته د تصوف کار مضبوط شو.

هندوستان کښې د اسلامي تصوف پۀ باب له د داتا ګنج بخش نوم د ياد وړ دے اؤ بيا د هغۀ کتاب "کشف المحجوب" د تصوف د لارې لاروو دپاره بل مشعل دے.دا د شپږمې صدۍ هجرۍ د ﷴ غوري د سلطنت د دور سره تعلق لري. دغه صدۍ کښې د داتا ګنج بخش نه علاوه د خواجه معين الدين چشتي اجميري ملفوظات اؤ د سلطان شمس الدين التمش پۀ دور کښې د شهاب الدين سهروردي مريد شېخ حميد الدين ناګوري تصنيف "طوالع الشموس" د تصوف پۀ حقله د ياد وړ دي.

د سلاطين دهلي پۀ دې دور کښې بلها صوفياؤ د تصوف پۀ لاره کښې خپلې هڅې کولې اؤ خلق ترې متاثره کېدل اؤ دا سلسله د عهد خاندان سادات اؤ عهد لودهي نه راتېره شوه اؤ تر مغليه دور راؤرسېده. د مغليه دور د ختمېدو پورې دې لړ کښې ډېر اهم شخصيات رامخې ته شوي وو لکه شېخ عبدالحق محدث دهلوي يا لکه شاه ولي الله اؤ د هغۀ خامن وغېره اؤ اخر دا سلسله علماء دېوبند ته رارسي اؤ قاسم نانوتوي، محمود الحسن ، عبېدالله سندهي، قاضي حسېن احمد مدني اؤ مولانا عزېر ګل وغېره دغه مد کښې اهم نمونه دي. د تقسيم نه پس د پاکستان پۀ جغرافيه کښې ډېر هغه صوفيا هم راغلل چې وفات وو اؤ دلته ئې مزارات وو ولې ژوندو صوفياؤ کښې هم د پاکستان پۀ ټولو صوبو کښې يؤ شمېر نامور صوفياء اوسېدل. خېبر پښتونخوا هم د بلها صوفياؤ مزارات هم لرل اؤ ژوندي صوفياء اؤ خانقاهونه ئې هم لرل اؤ اوس هم لري.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-01
ماخذ تحقیقی مجلہ

پښتنه تولنه کښې د تصوف ابتداء پیر روښان کوي. دا وړومبې سړے وۀ چې دۀ پښتنې معاشرې ته باقاعده د تصوف علم ورښوۀدل شروع کړل. د پیر روښان خپل نوم بایزید وۀ اؤ د ابو ایوب انصاري د نسل سره ئې تعلق لرلو نو پۀ هغه نسبت ئې د نوم سره انصاري لیکلے شي. دا ښاغلے پۀ کال ۹۳۱ کښې پۀ جالندر کښې پېدا شوے وۀ.پلارنے تاتوبے ئې د وزیرستان کانې ګرم علاقه وه.د بایزید د پلار نوم قاضي عبدالله وۀ اؤ د مور نوم ئې ایمنه. دۀ ابتدائي تعلیم د خپل پلار نه حاصل کړو اؤ وړاندې ئې بیا د رسمي تعلیم پۀ د طریقت لاره غوره کړه اؤ وخت پۀ وخت ئې چلې وویستې. اول ئې پۀ ځان خواري وکړه اؤ بیا ئې د خپلې پیرۍ اعلان وکړو اؤ بې شمېره خلقو ترې بېعت وکړو.هم دا رنګ پیر روښان د تصوف د لارې پښتون قام کښې د قبیلوي احساس پۀ ځائے قامي احساس پېدا کړۀ بلخوا ئې د تزکیه نفس پۀ ذریعه پښتون سماج د مختلفو بدو کارونو اؤ بدو اخلاقو نه واړول اؤ پۀ سماج ئې یؤ مثبت اثر وشۀ.

د پیر روښان پۀ مخالفت کښې د هغه دور دوه نور نامور شخصیات هم وو چې یؤ سید علي ترمذي المعروف پیربابا اؤ بل اخوند درویزه بابا وۀ.پیربابا د افغانستان نه راغلے وۀ اؤ د بونېر علاقه کښې دېره شوے وۀ اؤ هم هلته ئې اوس مزار هم دے. د دۀ د پېدائش پۀ حقله مولانا عبدالغفور صاحب لیکي چې:

> "د حضرت پیربابا پېدائش ۹۰۸هـ اؤ وفات ۹۹۱هـ کښې شوے. هغۀ پۀ بونېر کښې د یوسفزۍ قبیلې پۀ یوه کورنۍ کښې وادۀ کړے وۀ" [7]

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-01


اخوند درویزه بابا هم بنیادي طور نسلاً ترک وۀ.د دۀ پۀ نیکونو کښې وړومبے سړے جیون بن جنتي د لغمان نه ننګرهار ته راغلے وۀ اؤ دلته ئې خپله مشري قائمه کړې وه.د جیون بن جنتي پۀ اولاد کښې یؤ نېک اؤ زبرګ سړے شېخ ګدائي وۀ.دا شېخ ګدائي د اخوند درویزه پلار وۀ اؤ د مور نوم ئې بي بي قراري وۀ.اخوند درویزه پۀ کال ۹٤۰هـ کښې زېږېدلے.

دا دواړه شخصیات اګر چې د بایزید مخالف وو خو دواړو د تصوف سره تعلق لرلو ولې اختلاف ئې پۀ ځینې علمي نکتو وۀ. بهرحال بیا هم دا دواړه پښتون سماج کښې د تصوف د رڼا خورولو پۀ مد کښې اهم نومونه دي.

پښتنه ټولنه کښې د تصوف پۀ مېدان کښې یوه لویه کورنۍ د کاکا صاحب هم ده ځکه چې هغوي پلار پۀ نیکۀ د تصوف د لارې لاروي پاتې شوي.یعنې غالب ګل بابا خپله یؤ ولي الله اؤ زبرګ وۀ بیا د هغۀ ځوے مست بابا چې هغه هم د تصوف د لارې لاروے وۀ. د مست بابا ځوے حضرت شېخ بهادر بابا چې د مانکي پۀ غرونو کښې ئې اوس هم مزار ته بلها خلق راځي، د تصوف د نړۍ یؤ لوے نوم وۀ اؤ د شېخ بهادر بابا ځوے شېخ رحمکار چې خپل نوم ئې کستیر ګل وۀ اؤ پښتنو کښې پۀ کاکا صاحب مشهور دے. د پښتو ژبې لوے نابغه خوشحال خان خټک هم د کاکا صاحب عقیدت مند وۀ اؤ د خوشحال بابا ورور جمیل بېګ مشهور پۀ فقیر بابا هم د کاکا صاحب خلیفه وۀ.

دې نه علاوه د نؤښار د اکبر پورې اخوند پنجو بابا چې د شېخ بهادر بابا هم عصر وۀ، هغه هم د پښتو پۀ ټولنه کښې د تصوف پۀ مد کښې لوے کار کړے یا لکه د ثوکنو د میاں

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-01



عمر صاحب ذکر کۀ دې مد کښې ونۀ شي نو خبره به نیمګړې وي اؤ بیا پۀ وروستۍ دوره کښې د مانکي شریف پیران صاحبان، د پیرسباک شریف پیران صاحبان یا د هډې ملا صاحب، د توردېر خواجه ﷴ شعېب شهید صاحب، د سوات اخوند صاحب اؤ حاجي صاحب ترنګزئ وغېره اؤ داسې یؤ شمېر نور د تصوف د لارې لاروي چې پۀ پښتنه سیمه ئې د خدائے د وحدانیت اؤ د تزکیه نفس درس ورکړے دے.دې مد کښې ډاکټر عبدالرشید لیکي:

> "صوبه سرحد کښې تصوف صرف خانقاهي نظام پورې محدود نۀ وۀ بلکې د دهغې تصرف پۀ پوره ټولنیز ژوند وۀ اؤ د سرحد اولیاؤ نۀ صرف د دې خطې مخلوق خدا ته د الله د بندګۍ چل ښؤدلے بلکې هغوي ئې د انساني غلامي نه بچ کړي".[8]

هم دا وجه ده چې پښتون سماج کښې اولیاؤ اؤ د تصوف خاوندانو ته ډېر پۀ درنه سترګه کتلے شي ځکه چې دا خلق خپله هم د نېکو اعمالو اؤ د اعلی اخلاقو خاوندان وي نورو خلقو ته هم دغه درس ورکوي. کۀ مونږ د شلمې صدۍ پۀ پښتنه معاشره نظر واچوو نو باچاخان چې پۀ ظاهره یؤ سماجي اؤ سیاسي کارکن ښکاریدو خو هغۀ خپله هم د شېخ الهند محمود الحسن صاحب نه لاس نیوه کړې وه اؤ بیا د باچاخان د عدم تشدد تصور ته کۀ غور وکړو هغه د تزکیه نفس نه څۀ جدا څیز نۀ دے. یعنې یؤ انسان چې د خپل ذات نه ټول بد خویونه اؤ بد خصلتونه لرې کړي اؤ ښۀ اخلاق د خپل ژوند لازمي برخه وګرځوي دا د تصوف لاره هم ده اؤ د عدم تشدد هم.

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-01

## حوالې

١: داتا گنج بخش، کشف المحجوب، اردو ترجمه معین الدین نعیمي، مخ ٧٤، جنوري ٢٠١١، میلاد پبلي کېشنز لاهور.
٢: پهٔ حواله احسان الکریم، ایضاح التصوف باقوال الصالحین، مخ ٣١ اؤ ٣٣، اګست ٢٠١٤، موتمر المصنفین، اکوړه خټک.
٣: حمزه شینواري، غنچک، مخ ١١٥، جون ٢٠١٣، پاک امارات پښتو ادبي ټولنه دوبی.
۴: دوست محمدؐ خان کامل مومند، رحمان بابا، مترجم یوسف جذاب، مخ ١٠٣، اشاعت ٢٠١٢، ډائریکټریټ آف کلچر حکومت خیبر پښتونخوا.
۵: سمیع الدین ارمان، افغان سدارتهـ، مخ ٧٢، جولائي ٢٠٢١، مفکوره څېړنیز اؤ پراختیائي مرکز پېښور.
۶: دوست محمدؐ خان کامل مومند، رحمان بابا، مترجم یوسف جذاب، مخ ١٠٤، اشاعت ٢٠١٢، ډائریکټریټ آف کلچر حکومت خیبر پښتونخوا.
٧: پهٔ حواله، اخوند درویزه بابا، میاں ظاهر شاه قادري، مخ ١٤٧، اشاعت ٢٠٠٠، مکتبه غوثیه مدین سوات.
٨: تصوف اولیائے مانکی شریف اور تحریک پاکستان، ډاکټر عبدالرشید، مخ ١٤٣، نومبر ١٩٩٣، اولیاء اکېډمي پاکستان، مانکي شریف سرحد.